ملګري ملتونه
الف

عمومي اسمبلي

ویش
عام
A/HRC/10/23
۲۰۰۹، د جنوری ۱۶
اصل: انګلیسي

د بشري حقونو شورا
لسمه جلسه
د اجنډا دوهم ټکی

**د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر کلني راپور او د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر او د عمومي منشي راپورونه**

**په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعې او د بشري حقونو په ساحه کې د تخنیکي مرستو د برياوو په باب د بشري حقونو د عالي کمیشنر راپور**

## لنډيز

دغه راپور د بشري حقونو د شورا د ۲۰۰۶ کال د نومبر د ۲۷ پريکړه ليک (۲/ ۱۱۳) سره سم تسليم شوی دی چې په افغانستان کې د بشري حقونو وضعه، اوسنۍ ستونزې او اندېښنې او دغه راز د دغو اندېښنو د حل کولو لپاره وړانديزونه توضيح کړي.

افغانستان د نړۍ تر ټولو نيستمنو هيوادونو څخه يو دی. د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژي چې په ۲۰۰۸ کې تصويب شوه په دې هيواد کې د نيستۍ د کچې د راټيټولو يوه ستراتيژي ده او بشري حقونه په عام ډول د سياسی او مدني حقونو تر عنوان لاندې مطرح کوي. په دې برخه کې اوس يوه ستونزه دا ده چې د ټولنيزې او اقتصادي پرمختيا د پروسې د بشري حقونو اړخونو ته زياته پاملرنه وشي.

په افغانستان کې د وسله والې جګړې پراختيا او شدت په هغو ملکي خلکو باندې چې د جګړې په سيمو کې اوسيږي په تيره بيا په زيانمنيدونکو کسانو باندې ډيره زياته اغيزه کړې ده. زياتيدونکې جګړې دغه راز د ملکي تلفاتو په شمير کې زياتوالی راوستي او د بشري مرستو لپاره يې زمينه تنګه کړې ده. د ښځو او نورو ليرکيو ګروپونو په وړاندې تبعيض له دې څخه جوتيږي چې دوي عدالت او نورو بنسټيزو خدمتونو ته لاس رسي نه لري. هغه برياوې چې ښځو په دې وروستيو وختونو کې د عامه خدمتونو په برخه کې لاس ته راوړې دي، له خطر سره مخامخ دي. د بيان په آزادي باندې چې د ځواک اوسني جوړښت له ګواښ سره مخا مخ کوي مکرر بريدونه، او هغه ټولنيز او مذهبي نورمونه چې په معمول ډول ښځې ګوښه کوي د حکومت توانايي په شک کې اچولي ده چې و به کولای شي داسي دموکرات او آزاد شرايط رامنځ ته کړي چې بشري حقونه په کې په بشپړ ډول مراعات شي. دغه شرايط خاصتا د ټاکنو په وخت کې ډير ضروري وي. که څه هم په ۲۰۰۸ کې د قضايي سکتور د سمونې او د قضايي اداري د ښه کولو په خاطر ځيني نوښتونه پيل شول، خو سره ددې هم قضايي سيستم لا اوس هم کمزورې دي، په فساد اخته دي، په ښه ډول فعاليت نه کوي او کله د بشري حقونو له نړيوالو معيارونو سره سمون نه لري. په خشونت اميزه جنايي پيښنو کې زياتوالی او د ملک په ځينو برخو کې د قانون د تطبيق د چارواکو د ولکې کموالي ددې باعث ګرځيدلی دی چې د معافيت يو دود عموميت پيدا کړي. د دې پديدې موجوديت له هغې ناوسې څخه جوتيږي چې نه شی کولای په اوسنی او تيرو وختونو کې په بشري حقونو تيری کوونکی تر عدلي تعقيب لاندې ونيسي.

# فهرست

I. سریزه
II. نیستي او بشري حقونه
III. د ملکي کسانو ساتنه
الف: د حکومت ضد عناصر
ب: ملي او نړیوال امنیتي ځواکونه
ج: د بشرپالني مرستو ته لاس رسي
د: د جګړې په وخت کې نیونې او بندي کول

IV. تبعیض
الف: د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی او عدالت ته لاس رسي
ب: په عامه ژوند کې د ښځو په وړاندې تهدیدونه
ج: د لیږکیو ګروپونه

V. معافیت
الف: انتقالي عدالت
ب: معافیت او له ځواک څخه بده ګټه

VI. د دموکراسي نیمګړتیاوې
الف: د بیان آزادي
ب: ټاکنې

VII. موسساتي ظرفیت
الف: د عدالت اداره
ب: د بشري حقونو ملي اداره

VIII. تخنیکي همکاري
IX. نتیجه
X. سپاربښتنې/وړاندیزونه

## I. سریزه

۱.	دغه راپور د بشري حقونو د شورا د ۲۰۰۶ کال د نومبر د ۲۷ نېټې د ۲/ ۱۱۳ شمیره پریکړې سره سم تسلیم شوی دی او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندوی پلاوی (یوناما) په مرسته برابر شوی دی. د عالي کمیشنر د وروستي راپور څخه را په دې خوا افغانان په پرلپسې ډول د خپلو حقونو په اړوند له شدیدو نواقصو څخه ځوریږي. دغه نیمګړتیاوې د خلکو لپاره د خپلو بشري حقونو څخه د استفادې په لاره کې او دغه راز په دې ملک کې د اوږد مهالي سولې، ثبات، دموکراسي، پرمختګ او د قانون د حاکمیت په لاره کې جدي ګواښونه جوړوي.

۲.	له بشري حقونو څخه سختې سرغړونې د هغو هڅو لپاره داسې جدي ګواښونه دي چې غواړي افغاني ټولنې ته بل رنګ ورکړي. په دې ملک کې د معافیت دود حاکمیت لري او ژورې ریښې یې غځولې دي. دغه حاکمیت د سیاسي ارادې په نشتوالی کې څرګندیږي چې نه غواړي د انتقالی عدالت پروسې ته چټکتیا ورکړي چې په تیرو وختونو کې له بشري حقونو څخه د سرغړونې مسالې څیړي او دغه راز په اوسنی وخت کې له بشري حقونو د تیرې لپاره د حساب ورکونې د میکانیزم نشتوالی هم د معافیت د کلتور یوه پیلامه ده. د افغانانو غوڅ اکثریت له عدالت څخه ځکه محروم دي چې قضایي سیستم کمزوري، په فساد اخته او غیر فعال دي او له دې سره جوخت زیات شمیر دعوی او دنګلې د عرفي سیستم له مخې حل او فصل کیږي چې د قانوني مراحلو او شرایطو مراعات په کې نه کیږي.

۳.	عالي کمیشنر د ۲۰۰۸ کال په نومبر کې په دې باب خپله اندیښنه څرګنده کړه چې به افغانستان کې د مرګ سزا بیا عملي کیږي او څرګنده کړې یې ده چې په دې ملک کې د قانون د نفاذ او قضایي سیستمونه د هغو نړیوالو منل شویو معیارونو په عملي کولو کې پاتې راغلي دي چې د قانوني مراحلو او د عادلانه محاکمې تضمین کوي.

۴.	د ۲۰۰۸ کال په اوږدو کې د وسله والې جګړې پراختیا د دې سبب ګرځیدلی چې د ملکي خلکو د تلفاتو په شمیر کې زیاتوالی راشي او د بشري مرستو لپاره زمینه نوره هم تنګه شي. که څه هم داسې اقدامات ترسره شوي دي چې د نظامي عملیاتو اغیزه لږ کړي، مګر له جګړې څخه په متاثره سیمو کې د ملکي خلکو د ساتنې په لار کې د افغاني او نورو چارواکو کمزورتیا د یوې سختې اندیښنې په څیر پاتې ده. جګړې نه یوازې په زیانمنیدونکو خلکو باندې ډیره نا متناسبه بده اغیزه کړې ده، بلکه د حالاتو خرابوالی د دې سبب ګرځیدلی چې په حکومت باندې د خلکو باور کم شي او حکومت په دې کې بیرته پاتې شوی چې د خلکو د بنسټیزو بشري حقونو په وړاندې خپل مسوولیت رفع کړي لکه د امنیت په ګډون د اساسي خدمتونو برابرول.

۵.	دغه راز په دې موده کې چې راپور یې ورکول کیږي د سیاسي مخالفینو لپاره محدود امکانات برابر وو چې خپلې نظر یې اظهار کړي. د بیان په آزادي باندې جاري بریدونه په تیره بیا د خبري رسنیو او د بشري حقونود فعالینو په اړوند په ذاتي توگه له دې سره تړلې ده چې د ځواک یا قدرت جوړښتونه د نامناسبې استفادې لپاره تیار دي او د معافیت کلتور ډیرې ژورې ریښې لري. څرنگه چې ټاکنې په افغانستان کې په ۲۰۰۹ کال کې پلان شوي دي، د بدې استفادې دغه شکل اندیښنې نورې هم زیاتې کړې دي.

۶.	په افغانستان کې د بشري حقونو ډیرې ستونزې، چې له پخوا راهیسې موجودې دي نه دي حل شوي. د ښځو په وړاندې ډیر ژور تبعیض، د ښځو، نجونو او ځینو لیږکیو گوښه کول، ډیره سخته نیستي او د اقتصادي او اجتماعي پرمختیا داسې شکلونه چې نه شي کولای نا برابري رفع کړي په متداوم ډول د دې سبب گرځي چې خلک له داسې بنیادي بشري حقونو څخه محروم پاتې شي لکه روغتیا، غذا، اوبه او روغتیا پالنه، ښوونه او روزنه، سرپنا او د معیشت د وسایلو د درلودلو حق.

۷.	د ۲۰۰۸ کال په جون کې په پاریس کې د نړیوال کنفرانس په ترڅ کې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي تصویبول خاصتا د مرستندویه هیوادونو په منځ کې یو نوی قوت راپیدا کړ چې له حکومت سره د ځینو دایمي ستونزو په حل کولو کې مرسته وکړي لکه لوږه او بې برخې کیدل. مگر هڅې په هغه وخت کې قوت پیدا کوي چې د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا د پروسې د بشري حقونو خواوو ته زیاته پاملرنه وشي.

## II. نیستي او بشري حقونه

۸.	افغانستان د نړی د نیستمنو هیوادو څخه دی چې د نیستی کچه یې په سلو کې ۴۲ ته رسیږي، په سلو کې ۲۰ نور افغانان د نیستي له لیکي څخه لیږ پورته ژوند کوي چې تر ډیرې اندازې پورې زیانمنیدونکی کسان دي.

۹.	د ځواک یا قدرت نا مناسبه جوړښتونه، کمزوري حکومت داري، تبعیض او گوښه کول داسې عوامل دي چې غربت او نېستي څو برابره کوي او د میلیونو افغانانو ژوند له کړاو سره مخامخ کوي. په سلو کې ۶۱ کسان د غذایي موادو له کمبود سره مخامخ دي. سخته وچکالي چې د حاصلاتو په کموالی تمامه شوه د اساسي خوراکي موادو په قیمت کې زیاتوالی ددې مانا لري چې د غذا حق او د روغتیا تر ټولو ممکن لوړي سطحی د درلودلو حق، خصوصا په نیستمنو کورنیو کې تر ډیره حده پورې متاثره شوي دي. په افغانستان کې شته مني په ډیره نا عادلانه ډول ویشل شوې ده او د تولید زیرمې او سرچینې د یو څو کسانو په لاس کې لویدلي دي. د دریو لسیزو جگړې زیانمنیدونکو گروپونو ته ډیر کم د دې امکان ور کړي او یا هیڅ ددې امکان نه لري چې ځمکې او د معیشت نورو وسایلو ته یې لاس ورسیږي لکه بنیادي اجتماعي خدمتونه، او له همدې امله دغه گروپونه د هغو له خوا استثماریږي چې ځواک یې په لاس کې دي. د نیستی د کمولو د نوښتونو لپاره په بشري حقونو ولاړه یوه ارزونه

ډیره ضروري ده، خصوصا د داسي عواملو په تحلیل کي چي د فیصلی کولو او د منابعو د تخصیص پروسي تر اغیزې لاندې راوستلي شي.

۱۰. په ۲۰۰۸ کال کي یو مثبت ګام دا و چي په ملک کي د غربت د کمولو ستراتیژي یعني د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي سند تصویب شو چي د افغانستان په تړون لیک کي د زماني هدفونو د تطبیق کولو یوه وسیله ده. دغه سند د ۲۰۰۸ کال د جون په میاشت کي د پاریس په کنفرانس کي تصویب شو چي په ترڅ کي یې مرستندویه هیوادونو یو ځل بیا له افغانستان سره د خپلو مرستو ژمنه تایید کړه. د غربت د کمولو د دې ستراتیژي د بریالیتوب لپاره ضروري ده چي ټول همکاران د نیستمنو خلکو په ګډون باید ددې ستراتیژي په تطبیق، څارنې او ارزونې کي ګډون وکړي. د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي سند بشري حقونه یوازې د سیاسي او مدني حقونو یه ښیر مطرح کړي او په دې کي بیرته پاتې شوي دي چي د حکومت هغه مسوولیتونه په ګوته کړي چي د بیلا بیلو تړونونو په تصویب کولو سره یې منلي دي. څرنګه چي د طرح کولو مرحله اوس پای ته رسیدلي ده، د دې ضرورت اوس شته چي بشري حقونه باید د تطبیق په مرحله کي په مناسبه توګه په نظر کي ونیول شي، خصوصا تر هغه ځایه پورې چي په اقتصادي او اجتماعي پرمختګ پورې تړلي وي. د ډیرو سکتورونو ستراتیژي په پوره او روښانه ډول نه تعریفوي چي د زیانمنیدونکو خلکو وضعه څنګه کیدای شي په مناسبه توګه تر غور لاندې ونیول شي. په دې برسیره نیستمن خلک تر هغو نه شي مستفید کیدلای ترڅو په بودجه کي داسي لازم تخصیص نه وي نیول شوي چي د ټولنې د زیانمنیدونکو سکتورونو لپاره ضروري خدمتونه برابر کړي.

۱۱. څرنګه چي د ملګرو ملتونو ټولې ایجنسي ګاني به د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي په تطبیق کي مرسته کوي، له دې امله دوي باید تشویق شي چي د بشري حقونو پر بنیاد یو روش اختیار کړي. او د پرمختګ کارونه له دې زاویې څخه ووینې چي د یوې وسیلې په ښیر د خلکو اړتیاوو ته له حقوقي نظره وګوري او له حکومت سره مرسته وکړي چي د خپلو مسوولیتونو له عهدې څخه ووځي. د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي د تطبیق د پروسې د یوې برخې په ښیر ډیر ولایتونو پراختیایي پلانونه جوړ کړي دي چي د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي هدفونه تر لاسه کړي. د ملګرو ملتونو د انکشافي مرستو د چوکاټ لپاره د تیاري د یوې برخې په ښیر د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنري دفتر په امتحاني ډول یوه پروژه د یوناما او د ملګرو ملتونو د دوهم عمل د نړیوال سکرتریت په مرسته په دایکندي او بامیانو کي په کار اچولي ده. دغه پروژه د غربت د بشري حقونو په بعد او په دې باندې زور اچوي چي د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي تطبیق څنګه کیدای شي د داسي یوې وسیلې په توګه وکارول شي چي د بشري حقونو په لاس ته راوړلو کي مرسته وکړي. د بشري حقونو پر بنیاد روش او د ظرفیت د لوړولو له لارې د ولایتی انکشافي همکارانو په منځ کي د والیانو، مدني ټولنې او د انکشاف د نړیوالو همکارانو په ګډون زیاته لیوالتیا پیدا شوې ده. دغه خبره خصوصا د بشري حقونو پر بنیاد روش د ارزښت په باب اهمیت لري چي پایښت لرونکی پرمختګ د مرستو بهتره همغږي او اغیزمنتوب او د

هغو ولایتونو لپاره د کافي سرچینو په برابرولو کي موثر وي چي لیږ پاملرنه ورته کیږي ځکه چي په نسبي ډول ارامه دي.

۱۲. لکه څنګه چي د عالي کمیشنر په راپور کي چي د شورا اوومي غونډي (A/HRC/7/27) ته يي وړاندي کړی، ذکر شوي چي د افغانستان په تړون کي د شویو ژمنو د ترسره کولو لپاره یو مهم ګام د عالی کمیشنر د دفتر په مرسته د عدلیي وزارت په دننه کي د بشري حقونو د څانګي تاسیسول دي. زه په دي خوشحاله یم چي اورم چي حکومت د دي څانګي په تاسیس باندي بریالی شوي. دغه یو مثبت ګام دي په دي لوری چي حکومت په تړون لیک کي د بشري حقونو په اړه د خپلو مسؤلیتونو د رفع کولو لپاره اخیستي دي.

## III. د ملکي کسانو ساتنه

۱۳. وسله واله جګړه په ۲۰۰۸ کال کي ډیره شدیده شوه او له دي سره د ملکي کسانو د تلفاتو په شمیر کي زیاتوالی راغي او د بشري مرستو ډګر تنګ شو. یوناما د ۲۰۰۸ د جنوري د لومړۍ او نومبر ۳۱ نېټي په منځ کي د ملکي تلفاتو شمیر ۲۰۱۴ تنه ښوولي ده. دغه شمیر د ملکي تلفاتو د شمیر په نسبت په ۲۰۰۷ کال کي په سلو کي ۴۱ زیاتوالی ښیي. دغه شمیر د تلفاتو د ملکي خلکو په منځ کي تر ټولو کلونو څخه زیات دی چي له طالبانو سره په لویو جګړو کي د ۲۰۰۱ کال راهیسي پیښي شوي دي. په دي برسیره ملکي کسان له دي درکه په کړاو اخته شوي دي چي ژوبل شوي، ملکیت يي تخریب شوی، د معیشت وسایل يي له لاسه ورکړي، بي ځایه شوی دي، او تعلیم، روغتیا او نورو ضروري خدمتونو ته لاس رسي نه لري.

۱۴. د ۲۰۱۴ تلفاتو له جملي څخه چي راپور يي ورکړای شوی دی ۱۱۰۶ تنه (په سلو کي ۵۵) د راپورونو له مخي د حکومت ضد عناصرو له خوا، ۷۹۵ تنه (په سلو کي ۳۹) د حکومت پلوه قوتونو له خوا وژل شوي او پاتي ۱۱۳ تنه (په سلو کي ۶) یوې خوا ته هم نه منسوبیږي ځکه چي ځیني کسان د دواړو خواوو ترمنځ د ډزو په تبادله کي او یا د ناچاوده توکو له امله مړه شوی دي. د ملکي کسانو د تلفاتو زیات شمیر د افغانستان په جنوب کي پیښ شوی خو په جنوب ختیځ، ختیځ، مرکزي او لویدیځو برخو کي هم د ملکي تلفاتو شمیر زیات و.

### الف: د حکومت ضد عناصر

۱۵. د ملکي کسانو د تلفاتو د شمیر زیاتوالی د حکومت ضد عناصرو د فعالیتونو نتیجه ده. که څه هم معلومیږي چي د ځان مرګو بریدونو زیات شمیر يي نظامي او حکومتي هدفونه په نظر کي نیسي، خو دغه بریدونه

ډیر ځله له ګنه ګوڼې په ډکو ځایونو کې پیښیږي چې ملکي کسان ډیر موجود وي او معلومیږي چې ددې بریدونو په وخت کې د ملکي کسانو د ساتنې هیڅ خیال ورسره نه وي. د ۲۰۰۸ په موده کې شورشي عناصرو په ښکاره ډول ښوولې ده چې په داسې حملو کې ملکیانو ته زیان ورسوي.

۱۶.	د حکومت ضد عناصرو په تاکتیکونو کې دا هم شامله ده چې ملکیانو ته په مستقیم ډول تاوان ورسوي. د هغو کسانو په مقابل کې چې فکر کیږي په حکومت یا په نړیواله ټولنې پورې تړاو لري ډارونې، تهدیدونه او تاوتریخوالي د کال په اوږدو کې زیات شوي دی.

۱۷.	د دې تاکتیکونو په قربانیانو کې ډاکټران، ښوونکي، پولیس او نظامي پرسونل او هغه کارګران شاملیږي چې په عام المنفعه ساختماني کارونو کې لګیا وي. په څو پیښو کې ښځې خصوصا هغه ښځې چې په عامه کارونو کې داخلې وي تر برید لاندې راغلې دي. اساسي سندونه موجود دي چې د شورشیانو تاکتیکونه په سیستماتیک ډول له تاوتریخوالي او ډارونو سره ملګري ښیي. د ۲۰۰۸ کال تر اکتوبر پورې د ۲۲۷ وژنو راپورونه رسیدلي دي چې د یاغیانو په لاس شوي دي. د دغو وژنو څخه ډیری یې د عامو خلکو په منځ کې شوی دي. د مثال په ډول د ۲۰۰۸ کال په اکتوبر کې ۲۷ تنه بې وسلې کسان په کندهار کې پر یو بس باندې د برید پر مهال ووژل شول. داسې ادعا کیدله چې دغه کسان د افغانستان د ملي امنیت په قوتونو پورې تړلی وو.

۱۸.	د تښتونو او تهدیدونو ډیر داسې راپورونه رارسیدلی دی چې هغه کسان یې تر هدف لاندې نیولی دي چې له حکومت یا له نړیوالې ټولنې سره اړیکې لري. دغه ډول پیښې اوس په داسې ځایونو کې هم لیدل کیږي چې له دې پخوا په نسبې ډول ارامه سیمې وي، لکه شمالی سیمې، داسې راپورونه شته چې روغتیایي او تعلیمي مرکزونه په زوره تړل شوي او کارکوونکي یې تهدید شوي دي. په دې ډول په سلګونو زره ملکي کسان د ماشومانو او ښځو په ګډون له دې پیښو څخه متاثره شوی دي. د تهدیدونو او ډارونو دغه کمپاین په ملکي خلکو یعنی هغو کسانو باندې چې په مستقیم ډول هدف ګرځیدلي وي، ډیره زیاته ده او په خلکو کې د وهم او بیرې له لارې نا امني زیاته کړې ده.

**ب: ملي او نړیوال امنیتي ځواکونه**

۱۹.	د ملکي تلفاتو شمیر چې د افغانستان د حکومتي قواوو او نړیوالو ځواکونو له خوا پیښ شوي نږدې ۳۳ په سلو کې د ۲۰۰۷ کال د ۵۵۹ شمیر په پرتله زیات ښودل ښوی دې. دغه زیاتوالی سره د هغو اقداماتو منځ ته راغي چې په ملکي کسانو باندې د جګړې د اغیزو د کمولو په خاطر نیول شوي وو لکه د تحقیق لپاره د کورني او بهرنی خپلواکه څیرني، له عملیاتو څخه وروسته د بیا کتنو، او د داسې میکانیزمونو په ګډون چې په جګړه کې موجود تمایلات تر کتنې لاندې نیسي او په ملکي خلکو باندې د جګړو اغیزې کموي. هوایي بریدونه بیا هم له هغو

وژونکو تاکتیکونو څخه شمیرل کیږي چې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا کارول کیږي. د دې لپاره بیړنی اړتیا شته چې په عمومي ډول د حساب ورکوني میکانیزمونه بهتره شي او د ملکي خلکو په وړاندې د حکومت پلوه قوتونو په غبرګون کې ښه والی راشي.

۲۰. هوایي بریدونه خاصتا د ملکي خلکو لپاره ډېر خطرناک وي، ځکه هغوي نه شي کولای چې خپل کورونه او کلي پریږدي کله چې جګړه ونښلي. ډیرې داسې مهمې پیښې وشوې د ملی او نړیوالو ځواکونو ځمکني عملیات د هوایي بریدونو په ذریعه ملګري شوي دي او ملکي خلکو ته په دې ترڅ کې بې ساری تاوانونه اوښتی چې د ښځو او ماشومانو په ګډون ډېر ملکي کسان په کې وژل شوي دي. د یوې داسې حملې په پایله کې چې د هرات ولایت د شینډنډ په ولسوالي کې د ۲۰۰۸ کال د اګست په میاشت کې وشوه د راپورنو له مخې ۹۲ ملکي کسان ووژل شول چې ۶۲ تنه یې ماشومان وو. د ۲۰۰۸ کال په جولای کې د واده د مراسمو په وخت کې بمباري وشوه چې د ۳۰ ماشومانو په ګډون ۴۷ تنه په کې تلف شول او د هغوي اکثریت نجوني وي. د ۲۰۰۸ کال په نومبر کې د کندهار ولایت په شاولی کوټ باندې هوایي برید وشو چې ۳۵ ملکي کسان یې ووژل او ۳۷ تنه نور یې ژوبل کړل.

۲۱. د تلاشي او نیونو عملیات د شپې په مهال د بریدونو په شمول تر زیاتې اندزاې پورې اصلاح شوی دي ترڅو هغو اندیښنو ته ځواب وویل شي، چې په دې باب راپورته شوي وي. سره له دې هم جدي ستونزې لا په ځای پاتې دي، خصوصا د افغاني او نړیوالو ځواکونو ځیني ګډ عملیات چې تر حده زیاته قوه په کې استعمال شوې او د راپورنو له مخې له نا مناسبې رویې سره ملګري وو او په ځینو مواردو کې د ملکي کسانو په مرګ ختم شوي دي.

**ج: بشر دوستانه مرستو ته لاس رسي**

۲۲. د جګړې په زیاتیدو سره د بشر دوستانه مرستو ډګر تنګ شوی دی. د افغانستان د جنوب، ختیځ او مرکزي سمیو زیاتې برخې د نظامي حلقو له خوا د ډیرو خطرناکو یا د دښمن د سیمو په څیر پیژندل شوي دي. مرستندویه سازمانونه او د هغوي کارکوونکي په زیات شمیر سره د مستقیمو بریدونو، تهدید ونو او ډارونو هدف ګرځیدلی دي.

۲۳. د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر تر پایه ۱۳۰ تنه مرستندویه کارکوونکي (۱۲۴ ملي او ۶ تنه نړیوال کارمندان) تښتول شوي وو او ۳۸ تنه له دوي څخه وژل شوي دي. د ځینو مهمو پیښو څخه یوه هغه وه چې د ۲۰۰۸ کال د اګست په میاشت کې په لوګر کې درې تنه مرستندویه ښځینه کارمنداني او د دوي موټر چلوونکی له هغه وروسته ووژل شول چې دوي ته په لار کې کمین نیول شوی و. طالبانو د دې برید مسوولیت ومانه. د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر کې په سپین بولدک کې د ملګرو ملتونو په یوه قطار باندې برید وشو چې د نړیوال روغتیایي سازمان دوه تنه

ډاکټران د پولیو د کمپاین په منظور په کې شامل وو. دغه دوه تنه ډاکټران او د یوناما یو تن موټر چلوونکی په دې حمله کې ووژل شول.

۲۴. یاغیانو دغه راز د ټرانسپورټ شخصي کمپنۍ او ساختماني کارکوونکي هم د بریدونو هدف ګرځولی دي. د افغانستان لپاره د مرستو د همغږۍ اداری په وینا چې د نا دولتي سازمانونو یو چتر سازمان دي، دې شرایطو زیات شمیر مرستندویه ایجنسي ګانې دې ته اړ کړي دي چې د خپلو پراختیایی پروګرامونو او بشر دوستانه عملیاتو اندازه او پراختیا محدوده کړي. د دې مانا دا ده چې ښځې، ماشومان او زیانمنیدونکی خلک چې مرستو ته اړتیا لري نه شي کولای چې خپل حقونه تر لاسه کړي او هغه بشر دوستانه مرستې، بنسټیز ټولنیز خدمتونه لکه روغتیا او تعلیم خصوصا د نجونو لپاره ورته ورسیږي. په دې اړوند ضروري بریښي چې د بشر دوستانه مرستو پیمانه او ماهیت وپیژنو ترڅو هغه کسان په ګوته شي چې تر ټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

### د. په جګړه پورې اړونده نیونې

۲۵. د هغو کسانو شرایط چې د جګړو سره په رابطه کې نیول کیږي او توقیف کیږي د اندیښنې وړ دي، خاصتا د هغو قانوني شکونو له امله چې د دې کسانو د توقیف مشروعیت یې له پوښتنې سره مخامخ کړی دی. د هغو کسانو توقیف چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د عملیاتو په ترڅ کې کیږي د لاندنیو اوصولو له مخې اداره کیږي: دوي کولای شي هغه وګړي چې توقیف کیږي د ۹۶ ساعتونو لپاره وساتي، د نړیوال سره صلیب کمېټه باید خبره شي؛ له ۹۶ ساعتونو څخه وروسته توقیف شوی کسان یا ازادیږي او یا افغاني چارواکو، په عمومي ډول د ملي امنیت ریاست ته سپارل کیږي. ځینې ملکونو له حکومت سره یوه توافقنامه لاسلیک کړې چې له مخې یې د دغو توقیفیانو لیږدونه اداره کیږي. دغو ملکونو د ډیپلوماتیکي چینلونو له لارې دا ډاډ تر لاسه کړي چې له توقیفیانو سره به بد چلند نه کیږي او همدارنګه دوي به د مرګ له جزا څخه خلاص وي. یادې شوي توافقنامې ټولې یو شانته نه دي، مګر ټولې یې د هغه ملک ډیپلوماتیکی استازو، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د سره صلیب نړیوالې کمېټې ته د دې اجازه ورکوي چې له لیږدول شویو کسانو سره وګوري. خو سره د دې هم د دې توقیفیانو د شرایطو او له دوی سره د چلند په باب لږ معلومات موجود دي. د ملي امنیت ریاست لا تر اوسه هم داسې یو ښکاره قانوني چوکاټ نه لري چې له مخې یې د دې سازمان د تحقیق، نیونو او توقیف کولو اختیار تعریف شي او هغه قواعد بیان کړي چې په توقیف ځایونو کې یې باید مراعات کړي. یوناما د هغو کسانو له خوا شکایتونه اوریدلی دي چې پخوا د ملي امنیت ریاست له خوا توقیف شوی وو. دوي ویلي دي چې تر شکنجې لاندې نیول شوي دي. د ملي امنیت د ریاست له خوا د توقیفیانو سره چلند، د هغو توقیفیانو په ګډون چې د نړیوالې نظامي قوتونو له ولکې څخه انتقالیږي، د نړیوال بشردوستانه قانون او د نړیوالو بشري حقونو د قوانینو له مخې د هغو ملکونو د روش په هکله پوښتنه راپورته کوي چې نظامي قوتونه یې دلته موجود دي

۲۶.     هغه کسان چې د آزادۍ د پاینت د عملیاتو په ترڅ کې د بګرام د هوایي اډې په توقیف خانه کې توقیف شوی دي د هغوي سره د امریکې د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت د دستور او لاربښود لاندې چلند کیږي. توقیف شوی کسان د حقوقي مدافع وکیل او یا هم د داسې محاکمې په وړاندې د دفاع حق نه لري چې د قانون په رڼا کې جوړه شوې وي او د هغوي موقف د جنګي کسانو په توګه د یوه هیئت له خوا ټاکل کیږي چې د جنګي دښمن د پلټنې بورډ نومیږي. که چیرې دغه کس د دښمن جنګي شخص وګڼل شي نو هغه یوازې د ملي پخلاینې د پروګرام له لارې ازادیدلای شي چې د افغانستان د ملي دفاع وزارت ته د عدلي تعقیب لپاره سپارل کیږي. د دریو هیوادونو اتباع په ظاهره توګه د ګوانتانمو د ټاپو بحري اډې ته استول شوي. ځینې کسان د اطلاعاتو له مخې په بګرام کې د پنځو څخه د زیاتو کلونو لپاره په توقیف کې دي او ډیریې د شکنجې لاندې هم راغلي دي. په بګرام کې د یوه پخواني توقیف شوی شخص پر وینا نږدې ۶۳۰ تنه توقیف شوي کسان تر اوسه شته. د سره صلیب کمېټې له دغو توقیف شوو کسانو سره لیدلي دي، په داسې حال کې چې یوناما ورسره نه دي لیدلي د ۲۰۰۸ کال په پای کې د بګرام چارواکو دا ومنله چې د بندیانو سره د لیدني کتنې د حقونو اجازه د ځینو توقیف شوو کسانو خپلوانو ته ورکوي.

## IV: تبعیض/ توپیر

۲۷.     د ښځو او نارینه وو لپاره برابر حقونه د افغانستان په اساسي قانون کې تسجیل شوي دي، چې هغه لړ تر لړه د افغانستان دولت مکلف کوي چې دنړیوالو بشري حقونو د قوانینو او معیارونو احترام وکړي، چې دې کې هغه مکلفیتونه شامل دي چې د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو په هغه کنوانسیون کې راغلي دي چې د دولت له خوا په ۲۰۰۳ کال کې تصویب شوی دي.

۲۸.     د افغانستان د ښځو لپاره د ملي عمل پلان د ۲۰۰۸ کال په مې کې تصویب شوی دی. د هغه پلې کول د یوه مهم معیار په توګه د جنسیت د برابرۍ لپاره د ۲۰۰۶ کال د افغانستان په تړون کې ځای کړای شوی دی. د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي جنسیت د یوې متداخلې او ګډې ستونزې په توګه مني او هڅه کوي چې د تبعیض د له منځه وړلو د لارې د جنسیت لا زیاته برابري رامنځته کړي. د ښځو د خشونت په وړاندې د زیانمنتوب کمښت په کورنۍ او ټولنیزو ډګرونو دواړو کې او د جنسیت له لحاظه حساسو عدلي سیستمونو ته د رسیدنې سمون د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ د هدفونو له ډلې څخه دی.

**الف. د ښځو سره تاوتريخوالي او عدالت ته رسيدنه**

۲۹. حکومت په افغانستان کې په پوره ډول د ښځو د حقونو د ساتنې په لاره کې پاتې راغلي دي او دا هم د دې باوجود چې په اساسي قانون کې ددې تضمين راغلي دی او دولت نړيوالې ژمنې لري. له هغه ځايه چې ښځو ډير مهم پرمختګونه د معارف، او کار په برخو کې د طالبانو د رژيم د سقوط وروسته تر لاسه کړي دي په تيره بيا د سياسي ګډون په ډګرونو کې خو هغوي بيا هم د تبعيضی قوانينو، چلندونو او اعمالو سره مخ دي. يوه د ځانګړو انديښنو څخه د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي هغه اوږد تاريخ دی چې د هغوي په شخصی او عامه ژوند باندې اغيز لري. دغه تاوتريخوالي ډير پراخه دی او په ژوره توګه د افغاني ټولنې د ژورو محافظه کارانه مذهبي او عنعنوي ارزښتونو سره تړاو لري چيرته چې د ښځو دوهمه درجه حيثت هميشه په سيستم پورې مربوط او سيستماتيک ټوپير سره مخ دي. تيري او خشونت په کورنۍ او ټولنه کې د عنعنوي او مذهبي مشرتابه په کړيو کې او همدارنګه په رسمي او غير رسمي عدلي سيستم کې تحمل او ور څخه سترګې پټيږي. د ښځو مصيبت د لا قانونيت سره چې يوه برخه يې د معافيت د چاپيريال په موجوديت کې دي، زياتوال مومي.

۳۰. له ښځو او ماشومانو سره خشونت او مضر عنعنوي عملونه په مختلفو شکلونو کې ظاهيريږي لکه جنسي تيری د غيرت په نامه وژني، وختي او جبري ودوني، جنسي غلامي (خصوصا کله چې نجوني د دې لپاره ورکول کيږي چې په کورنيو کې شته ستونزې هوارې شي او يا قرضونه ادا شي)، په توقيف ځايونو کې جنسي بده استفاده او د قضايي سيستم له خوا د خشونت د ښځينه قربانيانو په جرم محکومول. د دې تاوتريخوالي زياته برخه په کورنيو کې د ننه اجرا کيږي. سره له دې هم محلی ځواکمنان، رسمي او غير رسمي قضايي سيستمونه، پوليس او د توقيف ځايونو چاراواکي هم په دې برخه کې خپل نقش لري چې په ښځو باندې اجتماعي کنترول ته قوت ورکړي او دغه ډول تاوتريخوالي وزغمل شي.

۳۱. په ښځو او نجونو باندې جنسي تيری لا اوس هم عموميت لري، که څه هم د دې جرمونو زياته برخه له راپورونو څخه لويږي، ډيرجنايت کاران هيڅ سزا نهويني. سره د دې هم داسې نښې نښانې شته چې د جنسي تيري قربانيان د پيښنو راپور ورکوی او ځيني چاراواکي غواړي چې ځيني دا ډول پيښې تر تحقيق لاندې ونيسي. په ۲۰۰۸ کې ځيني مهمې پيښې د دې باعث شوې چې د جنسي تيری ستونزه بيا د عامو خلکو پاملرنه ځان ته را واړوي. دغه وضعه ښايي له دې سره مرسته وکړي چې له جنسي تيری سره تړلې بدنامي محوه کړي او د جنسي تيري د قربانيانو په ستونزو کې کموالی راولي. د ۲۰۰۸ کال په اګست کې ولسمشر (د جنسي تيری کوونکو لپاره په هيواد کی تر ټولو سخته جزا) وغوښته. له دې غوښتنې وروسته عام خلک په هغه وخت کې ډير په غصه او د عدالت غوښتونکی شول کله چې د سرپل په ولايت کې په يوې ۱۲ کلنې نجلۍ باندې جنسي تيري وشو. په دې خاصه قضيه کې د رسمي څېړنو په پايله کې څو تنو چاراواکو خپلې وظيفې له لاسه ورکړې. تقريبا په همدې وخت کې دا خبره هم ښکاره شوه چې دوه تنه چې د سترې محکمې له خوا په ۲۰۰۵ کې د جنسي تيری له امله محکوم

شوی وو، د ۲۰۰۸ په اپریل کي د ولسمشر د فرمان له مخي خوشي شول. یوناما زیاته اندیښنه ښکاره کړه چي دغه ډول بخښني به داسي یو غلط پیغام واستوي چي د ښځو په وړاندې د خشونت مرتکبین سزا نه شی لیدلای.

۳۲. د تاوتریخوالي ښځینه قربانیاني عدالت ته ډیره محدوده لاس رسي لري او د تاوان د جبران کولو ډیرې کمي اغیزناکي وسیلي په اختیار کي لري. د قانون د انفاذ او قضایي سیستمونو کي ډیر لږ تعداد روزل شوې ښځینه کارکوونکي شته، لکه د پولیس، محاکمو او په نورو حقوقي مسلکونو کي. داسي خدمتونه لکه قانوني مرستې، اجتماعي کارونه، مشورې او پنا ځایونه ډیر کم موجود دي. ښځي او نجوني بیا هم د داسي عملونو لپاره تر تعقیب لاندې وي او توقیف کیږي چي اجرا کول یې په قانون کي جرم نه دي شمیرل شوي. په دې ډول د جنسي بدي استفادي قربانیان معمولا د زنا (له واده څخه مخکي یا وروسته جنسي عمل) په تور محکومیږي او د جبري ودوني قربانیان په دې تور تر تعقب لاندې راځي چي له کورونو څخه تښتیدلي دي. تر اوسه داسي مناسب قوانین او پالیسي نه دي جوړې شوي او تطبیق شوې چي قربانیانو ته ساتنه ورکړي او ددې نتیجه دا وي چي قربانیان په قضایي سیستم کي په سیستماتیک ډول بیا متضرر کیږي. که څه هم ځیني ماشومان او ښځي په خوندي ځایونو کي د بندیانو په څیر ساتل کیږي خو دا ښکاره ده چي ددې قضیو د هوارولو لپاره او د دې خبرې یقیني کول چي د ازادي سلبول واقعا د یوې وروستنۍ ممکمني وسیلي په حیث په کارول شوې کومه روښانه کړنلاره نشته. په اداره کي فساد یو بل عامل بلل شوی چي د عدالت په تامینولو کي منفی رول لري، داسي چي د محلي ځواکمنانو او یا د مجرمینو له خوا د بډو ورکول د دې باعث ګرځي چي مجرمین له عدلي تعقیب څخه خلاص شي. له دې امله دا ډیره ضروري ده چي د ښځو د ساتني لپاره د قانوني چوکاټ د تقوي لپاره باید په جنایي عدلي سیستم کي اصلاحات راشي.

### ب. په عام ژوند کي د ښځو په وړاندې ګواښونه

۳۳. په عام ژوند کي یا له کور څخه بهر د کار په ځایونو کي د ښځو لپاره تهدیدوني او بیروني ډیرې زیاتي شوې دي. ښځو لپاره په حکومتي ادارو او په نړیوالو سازمانونو کي د کار امکانات پیدا کیږي خو دلته دوي د حکومت ضد عناصرو له خوا زیاتي تهدیدیږي، او دغه راز په دې تهدیدونو کي د دوي کورنۍ او ټولني او نارینه همکاران هم تر یوې کمي اندازې پورې نقش لري. د ښځو د بخش استازو د پارلمان غړو، د سنا او د ولایتي شورا غړو، د پولیس کارمندانو، قانون پوهانو او ژورنالستانو او هغو ښځو چي د ملي او نړیوالو سازمانونو سره کار کوي ټولو د دهشت خبرې کړي دي چي په مرګ تهدید شوي دي او یا په تیلفون او لیکونو کي تهدید شوي دي. که څه هم دا خبره ښکاره ده چي ددې بریدونو اصلي مسؤولیت د مخالفو وسله واله قوتونو په غاړه دي، خو تل دا خبره نه ده څرګنده چي دوي ښځي په اختصاصي ډول د برید هدف ګرځولي دي او که دا د یوه عمومي کمپاین یوه برخه ده چي ټولو هغو کسانو ته متوجه ده چي له حکومت یا نړیوالي ټولني سره کار کوي او یا هغو ته چي د ښځو د حقونو طرفداري کوي. په عام ژوند کي ډیرې ښځي دې ته اړ شوې دي چي خپل فعالیتونه کم کړي او یا کارونه

پريږدي، ځکه چې دوي د دې باور نه لري چې چارواکي به دوي ته تحفظ ورکړي او یا به ددې توان ولري. د یوې جګپوړې ښځینه مهمې پولیس افسرې وژنه د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر میاشت کی په کندهار کې هغه جدي خطرونه په ډاګه کړل چې د ښځو په وړاندې په عام ژوند کې موجود دي.

## ج. د لیږکیو ډلې

۳۴. د افغانستان اساسي قانون دا اصل منلی دی چې د هیڅ یو شخص یا ډلې په مقابل کې د جنسیت، قوم، قبیلې، مذهب یا ژبې پر بنیاد تبعیض نه شي کیدلای. افغانستان څلور عمده قومي ګروپونه لري: پښتانه، هزارګان (شیعه لیږکی)، تاجیکان او اوزبکان. په دې برسیره یو شیمر نور لیږکي ګروپونه شته چې د ژبنیو، کلتوري او قومي توپیرونو له امله سره بیل دي او همدارنګه د سیکانو او هندوانو لیږکي ګروپونه هم شتون لري.

۳۵. کوچیان چې شمیر یې د کوچیانو چارو د خپلواک ریاست له خوا له پنځو میلیونه څخه زیات اټکل شوی دی یو اجتماعي لیږکي ګروپ جوړوي چې تل له تبعیض سره مخامخ دي. په دودیز ډول د دوي د معیشت وسایل له مالداری څخه پوره کیږي، که څه هم ډیرې یې اوس په نیمه کوچیتوب کې ژوند کوي او یا په ټولنو کې ځای پر ځای شوي دي. د کوچیانو عمده ستونزې دا دي چې ځړ ځایونو ته لاس رسي نه لري او له بنیادي خدمتونو څخه لکه تعلیم، روغتیا پالنه او کارونو څخه به برخي دي. دا خبره هم څرګنده شوېده چې په ځینو ولایتونو کې چارواکي دوی ته د تابعیت د پاڼو له ورکولو څخه انکار کوي.

۳۶. د کوچیانو حقونه د اساسي قانون د ۱۴ مادې په ذریعه تضمین شوي دی او حکومت دنده ورکوي چې د کوچیانو د اقتصادي، ټولنیز او د ژوندانه د شرایطو د ښه کولو لپاره اغیزناک پروګرامونه عملي کړي او داسې اقدامات تصویب کړي چې له مخې یې وړ اتباعو ته کورونه او عامه جایدادونه توزیع شي. د دې سره د کوچیانو چارو خپلواک ریاست تضمین کوي چې یوازې په سلو کې (۳۰) تنو کوچیانو د تابعیت پاڼې تر لاسه کړي دي او د اتباعو په څیر ثبت شوی دی. په ملي شوراکې د کوچیانو لپاره لس څوکی ځانګړي کړای شوي دي (۷ څوکی د سړو او ۳ یې د ښځو لپاره) (څرنګه چې د دوي غوڅ اکثریت پښتانه دي، ځینې کسان دې کار ته داسې ګوري چې یوه ډله په فیصدي لحاظ له زیات شمیر څوکیو څخه استفاده کوي.) د دوي اکثریت نه شي کولای چې د رایې ورکولو لپاره ځانونه ثبت کړی ځکه چې دوی د تابعیت پاڼې نه لری. یو دریم اقدام دا و چې په ۲۰۰۷کال کې د ولسمشر د فرمان له مخې کوچیان حق لري چې د ښاروالی له خوا د ځمکو او کورونو د توزیع د پروژې لسمه برخه تر لاسه کړي او ځای پر ځای شویو کوچي ټولنو ته ځمکې اختصاص شوی دي. خو د دې پالسی په تطبیق کې تاخیر او سستوالی دې ته اشاره کوي چې د قانوني ضمانتونو او عملي کارونو په منځ کې څومره واټن شته.

۳۷.	جګړو او وچکالي او همدارنګه د حکومت له خوا د ځرځايونو او جايدادونو په برخه کې د يوې ښکاره پاليسي نشتوالی د دې سبب ګرځيدلی چې کوچيان خپل کوچياني ژوند پريږدي. خو له بلې خوا دې شرايطو دوي د ځمکې او منابعو په سر له ميشته ټولنو سره په ټکر کې راوستل. حکومت و نه شو کولای چې د کوچيانو او ميشته هزاره ګانو په منځ کې د ځرځايونو په سر لانجه چې له پخوا راهيسي په مرکزي لوړو سطحو کې موجوده وه حل کړي.دغه کال بيا هم ددې شاهد و چې د دوو ګروپونو په منځ کې د ميدان وردګو ولايت د بهسودو په ولسوالي کې جګړه وشوه چې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنر او يوناما د يوه ګډ هيئت په قول ۲۳ کسان په دې جګړه کې وژل شوي له ۶۰۰۰ څخه زياتې کورنۍ بې ځايه شوی او ملکيتونو ته زيان رسيدلی چې د لومړي ځل لپاره جوماتونه هم په کې شامل دي. په دغو ارقامو کې د کوچيانو تلفات نه دي شامل.

## V: معافيت

### الف: انتقالی عدالت

۳۸.	د معافيت له کلتور سره د مقابلې په اړه چې ډيرې ژورې ريښې لري ضروري خبره دا ده چې د قانون حاکميت ټينګ شي او په تيرو وختونو کې د مجرمينو سره حساب اوکتاب وشي. دا پخپله د دې سبب ګرځي چې عدالت تقويه شي او پايښت لرونکې سوله رامنځ ته شي. ځينې کسان چې په بشري حقونو په تيری باندې تورن دي تر اوسه لا هم عدالت ته نه دي حاضر کړای شوي او د دې خلکو زيات شمير لا اوس هم په مرکزي او محلی سطحه په مهمو پوستونو باندې مقرريږي. دغه کار نه يوازې د افغانستان د هغو بين المللی ژمنو سره په تناقض کې دي چې په نړيوالو جرمونو تورن کسان به عدالت ته حاضروي، دغه راز دغه کار په حکومت او د هغه په نړيوالو همکارانو باندې باور کموي، د عامه موسساتو مشروعيت له سوال سره مخامخ کوي، خاصتا د قانون د انفاذ او قضايي موسسو او په دې ډول پر بشري حقونو د تيري په وړاندې موجوده مسلط کلتور تقويه کوي.

۳۹.	د سولې، پخلاينې او عدالت لپاره د عمل پلان چې په ۲۰۰۵ کې تصويب شوی يو داسې چوکاټ دی چې په تيرو وختونو کې د تيرې مسالې تر غور لاندې نيسي او يوه داسې ټولنه جوړول غواړي چې د قانون په حاکميت باندې ولاړه وي. د دې پلان زماني هدفونه ښيي چې د ۲۰۰۸ تر پايه به خپل هدفونه تر لاسه کړي. د عمل پلان تطبيق نه شو ځکه چې په حکومت او نړيواله ټولنه کې دا سياسي اراده او ملاتړ نه و چې د حساب ورکونې مساله حل کړي او هغې ته د افغانستان د عمومي بدلون په پروسه کې د لومړيتوب حق ورکړي.

۴۰.	د پارلمان له خوا په ۲۰۰۷ کې د ملي پخلاينې د منشور د تاييد په باره کې لا تر اوسه جدي انديښنې موجودې دي، چې ټولې خواوې د وسله واله مخاليفينو په ګډون ملي پخلاينې ته رابولي. دغه منشور ټولو هغو

کسانو ته معافیت ورکوي چې له عدلي تعقیب څخه به خلاص وي که له دغه نوښت سره یو ځای شي. دغه حرکت د عبوري عدالت هدفونه ځکه په خطر کې اچولي دي چې د تاوتریخوالي قربانیانو ته د حقیقت د موندلو او د جبران کولو حق نه ورکوي او مجرمین له دې څخه ژغوري چې حساب ورکوني ته حاضر شي او وړ جزا ووینې.

۴۱. یوه بله اندیښنه دا ده چې په افغانستان کې د مدني ټولنې او د بشري حقونو د سازمانونو اواز د انتقالی عدالت د راتلونکې په اړوند په دې ملک کې د دهشت او تهدیدونو له لارې نه اوریدل کیږي.

۴۲. د بشری حقونو د عالی کمشنر دفتر له یوناما او افغاني همکارانو سره د انتقالی عدالت د مسالو په باب یو ځای کار کوي. د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره یو ځای په ۲۰۰۸ کال کې په څو ولایتونو کې یو عمومي کمپاین د عامه پوهاوی لپاره ترسره شو او د تیاتر یوه ټوټه وښودل شوه چې د قربانیانو بده ورځ یې ننداري ته وړاندې کړه. یوناما د دې تیاتر په اساس یوه ویډیو هم تیاره کړه چې په افغانستان کې د بشري حقونو او د یادګار په ورځ خپره شوه.

۴۳. ځیني داسې اقدامات شوي دي چې د ډله ییزو قبرونو د ساتنې او پلټنې په برخه کې د داخلي عدلي طب ظرفیت لوړ کړي. د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر په لومړیو کې د عامې روغتیا وزارت اعلان کړه چې د فقید داود خان او د هغی د کورنی د ۱۶ تنو د جسدونو پاتې برخې یې پیژندلي دي. اندیښنې په دې باره کې څرګندې شوي دي چې په دشت لیلی کې د ډله ییزو قبرونو ساحې پلټل شوي او شواهد تخریب شوي دي. ټول اقدامات باید وشي چې بی له ځنډه د ډله ییزو قبرونو ټولې ساحې خوندي وساتل شي. د تیرو وختونو په باب د حقایقو پیدا کول چې د نړیوالو معیارونو سره برابر وي له زیات اهمیت څخه بر خوردار ه دي.

۴۴. د تیرو جرمونو د تورنو کسانو په عدلي تعقیب کې بیرته پاتې کیدل د قانون د انفاذ او قضایي موسساتو مشروعیت ته ډیر زیان رسوي او خلکو د قانون په حاکمیت باندې خپل باور له لاس ورکړی دی. دې شرایطو په پای کی دغه اوسنۍ وضعه رامنځ ته کړه چې د معافیت کلتور په کې بر لاسی دی.

۴۵. یوناما په پرلپسی ډول شکایتونه تر لاسه کړي دي چې پولیس نه شي کولای په بې پلوه او خپلواکه ډول د بشري حقونو د تیریو د مسالو په باب تحقیق وکړي. همدارنګه قاضیان او څارنوالان زیاتره د دې توان نه لري چې په خلاص زړه هغه قضیې وڅیړي چې د عرفي رواجونو په خلاف وي او یا د محلي ځواکمنانو له ګټو سره برابرې نه وي. د خلکو ځیني کټګوری لکه نجوني، ښځې او نیستمن خلک ډیر ځله رسمی عدلي او قضایي سیستم ته لاس رسی نه لري، ځکه قضایي چارواکي د دوي شکایتونه نه اوري او په سیستماتیک ډول د ځواکمنانو په څنګ کې دریږي. په دې ترتیب قانوني اوصول لکه برات الذمه حالت اصلي دي او د عادلانه محاکمې شرایط اکثرا نه مراعات کیږي.

۴۶. په موسساتو/ادارو کې پريمانه فساد، چې د داخلي څارنې يو کمزوري دسپلين لري د قضايي چارواکو وړتيا تر اغيزې لاندې راولي چې په خپلواک او اغيزمن ډول اجرات وکړي. د روزل شوی پرسونل او د مادي سرچينو کموالی هم دغه چارواکي په مناسب ډول د دندو له اجرا کولو څخه منع کوي. نور عوامل لکه داسې موسسات چې د قانون تابع نه وي، خاصتا په کليوالی او جنګ ځپلو سيمو کې، د جنګ سالارانو د محلي قوماندانانو او نورو ځواکمنانو منفي نفوذ، د محاکمو شاهدانو او قربانيانو لپاره د يوه خوندي چاپيريال په رامنځ ته کولو کې بيرته پاتې کيدل په پرلپسې ډول د قضايي چارواکو خپلواکي او بې طرفي تر سيورې لاندې راوستې ده.

۴۷. د دعواو د حل کولو غير رسمی مکانيزمونه (لکه جرګه او شورا) که څه هم د اساسي قانون له مخې رسميت نه لري، خاصتا په کليوالی سيمو کې ډير عموميت لري. د دې خبرې علت تر يوې اندازې په دې پورې اړه لري چې رسمي قضايي موسساتو ته لاس رسي او په هغو د خلکو اعتماد کمزوري شوی دی. که څه هم د ټولنې د اتحاد او په کار کې د اسانتيا له پلوه دوديزې طريقې مثبت عناصر هم لري، خو د قانوني مراحلو د شرايطو په اړه، خصوصا د ښځو، ماشومانو او زيانمنيدونکو ډلو لپاره د زياتې انديښنې وړ دي.

۴۸. سره له دې هم ځينې مثبت بدلونونه منځ ته راغلي دي، لکه د ښځو په مقابل کې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو قانون چې د ښځو د چارو د وزارت او د مدني ټولنې په مرسته ايجاد شو. د عدليې وزارت په نوښت د قانوني مرستو يو سيستم چې د دولت له خوا تمويليږي او د دفاع وکيلانو د اتحاد يې تشکيل د پرمختګ په لوری مثبت ګامونه دي.

۴۹. له معافيت سره مقابله او د قانون حاکميت په افغانستان کې د لومړيتوب حق لري. د داسې ميکانيزمونو لپاره اړتيا شته لکه مشورتي هيئت چې د سولې، عدالت او پخلاينې لپاره د عمل په پلان کې په نظر کې نيول شوي و او هدف يې دا دی چې هغه کسان چې په تيرو وختونو کې د بشري حقونو په سختو سرغړونو تورن دي مهمې حکومتي څوکۍ تر لاسه نه کړي. راتلونکي ټاکنې هم د افغانانو لپاره د دې فرصت ورکوي چې په دې لار کې نور ګامونه اوچت کړي چې د داخلي او نړيوال قانون په خلاف په بشري حقونو سرغړوونکي و نه کولای شي چې په پارلمان کې څوکۍ تر لاسه کړي.

## VI: د دموکراسي نيمګړتياوې

### الف: د بيان آزادي

۵۰. په ۲۰۰۸ کال کې په افغانستان کې د خبري رسنیو د فعالینو، مدني ټولنو د ګروپونو او د افغانانو توانایي چې په ازادانه ډول خپل فکرونه او نظرونه بیان کړي تر برید لاندې راغلې. ملي او ولایتي چارواکو، د دولت ضد عناصرو او بیلا بیلو ځواکمنانو ټولو دا هڅه کړې ده چې د دوي د بیان ازادي محدوده کړي. پولیس او څارنوالان په عموم ډول د بیان د آزادي په ساتلو کې څکه بیرته پاتې شوی دی، چې دوي د خپلو دندو په سرته رسولو کې د ځواکمنانو سره په ټکر کې راځي. قضایي قوې په پرلپسې ډول د بیان له آزادي څخه دفاع نه ده کړې او کله هم د دې آزادي د محدودولو یو عامل ګرځیدلی دي. د بیان ازادي معمولا داسې پیژندل شوې چې ګوندې د ځواک جوړښتونه، ملي امنیت یا اسلامي ارزښتونه تهدیدوي. د افغانستان بنده او منع کوونکی ټولنې په ټول ملک کې د ځاني سانسورونې دود پراخ کړی او د انتقاد او مباحثو لار یې نیولې ده.

۵۱. د ژورنالستانو او نورو کسانو په وړاندې ډاروني او بریدونه چې د بیان آزادي غواړی دوام لري، څکه چې نامناسب عمل پیژندل کیږي، همدارنګه هغو هڅو دوام موندلي چې د فساد په ضد انتقادي راپورونه بندوي، څکه فکر کیږي چې دغه ډول راپورونه حساسیتونه راپاروي. د مثال په ډول د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ۲۰۰۸ کال په می کې د راډیو- تلویزیون یو ژورنالست وروسته له هغه بر طرف کړ چې هغه ویلي چې د بیان آزادي یوازې د کاغذ پر مخ شته او دا چې خبري رسنۍ د ځواکمنانو لپاره یوه وسیله ده. د ملي امنیت ریاست د همدې کال په جولای کی یو ژورنلاست ددې لپاره ونیو چې د ولسمشر په اداره باندې یې انتقادي نظر خپور کړی و. ژورنالست له دې ویرې څخه چې ژوند یې په خطر کې دی په بهر کې د پنا غوښتنه وکړه. همدارنګه ښځې ژورنالستانې په پرلپسې ډول تر تهدید لاندې راغلې دي.

۵۲. د ډله ییزو رسینو ازادي هم په هغو سیمو کې کومې چې د پوځي شخړو له امله متاثره شوې د پام وړ ګواښ لاندې ده. د خبریالانو تښتولو او وژلو دوام وموند. د ۲۰۰۸ کال د جولای په میاشت کې د بی بی سي یو افغان خبریال چې د هلمند په ولایت کې یې د بی بی سي لپاره کار کاوه وتښتول او بیا ووژل شو. که څه هم چې ددغې پیښې مسوولیت طالبانو په غاړه واخیست، ښایي دغې وژنې د فساد په برخه کې د څیړنو د مسلې سره تړاو درلود.

۵۳. د ۲۰۰۸ کال د جنوري د میاشتي مهمه قضیه د محصل خبریال سید پرویز کامبخش قضیه ده. کامبخش اسلام ته د سپکاوي او د اسلام څخه د انکار د تور پخاطر د مرګ سزا ورکړل شوې. نوموړی ادعا کوي چې د انترنیټ څخه یې یوه مقاله چې د ښځو د حقونو د وضیعت په هکله وه، اخیستې، بیا یې د نورو زده کوونکو تر منځ د اضافه شوی تبصري سره خپره کړې. د مرافعې محکمې د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر په میاشت کې د نوموړی د بند موده ۲۰ کلونو ته راټیټه کړه، خو د محکومیت څخه یې ملاتړ اعلان کړ. د سزا په شدت سربیره، د محاکمې د جریان په هکله په ابتدائیه او مرافعه دواړو کچو کې د ښکاره بې نظمی په هکله اندیښنې موجودې دي.

۵۴.	د ۲۰۰۹ کال د ټول ټاکنو د لومړیو میاشتو په هکله قوي اندیښني موجودې دي، ډله ییزې رسنۍ به خپل ځاني سانسور ته دوام ورکړي یا به د هغو نظریو د نشرولو لپاره چي د ځینو سیاسي کړیو لپاره ګټورې وي تر فشار لاندې راشي او د ګواښونو او بریدونو له امله به یو شمیر نوماندو او وګړو ته د خپلو نظریو د بیان حق ور نه کړل شي. د ډله ییزه رسنیو په څټ تلنه، او د بیان د آزادي د ساتلو هڅي به سترې اندیښني وي. دا د خواشینۍ ځای دی چي په دې وروستیو کلونو کي د ډله ییزه رسنیو د غوړیدو سربیره داسي پیښي رامنځ ته کیږي.

## ب: ټول ټاکني

۵۵.	ولسمشریزی، پارلماني او د شوراګانو ټول ټاکني په ۲۰۰۹ کال کي په نظر کي نیول شوي دي. د تیاري نیولو د هڅو په لړ کي د رایي ورکوونکو د ثبت او د پوهاوي فعالیتونه د هیواد په کچه د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۰۹ کال د مارچ تر میاشتي پورې په نظر کي نیول شوي.

۵۶.	د ځانګړې اندیښني یوه ساحه د ښځو ورتیا ده چي په عامه ژوند کي د برخي اخیستني لپاره خپل حق کاروي، په دې کي د دفتر لپاره د ښځو نومول یا د نوماندو څخه ملاتړ او رایي ورکونه شامله ده. د رایي د ثبتولو د پروسي پر مهال، ځیني ښځي په دې نه دي توانیدلي چي خپلي رایي ثبت کړي ځکه چي د ثبت لیکني مرکزونه په خاص ډول د ولسوالیو په مرکزونو کي ځای پر ځای شوي وو. په ډیرو محافظه کارو او د شخړو څخه په متاثره شویو برخو کي د فرهنګي فعالیتونو له امله د ښځو د خوځیدني آزادي محدوده شوی. د راي ورکولو د پروسي پر مهال به د زیاتو رای ورکولو د مرکزونو د جوړیدو له لارې د ورته ستونزو د پیښیدو کچي د راټیټیدو تمه کیږي، خو بیا به هم یو شمیر زیاتي ښځي د خوځیدني د محدودیتونو او د هغوي د حقونو د پوهاوي د کچي د کموالی له امله د محدویدتونو سره مخ شي. د ښځینه کارکوونکو مناسب شمیر چي وکولای شي مدني او د لاس رسي زده کړې چارې او د ښځو د رایي ورکولو مرکزونه پر مخ بوځي لا هم کم دي. و به لیدل شي چي آیا ښځي به وکولای شي د ۲۰۰۵ کال د ټول ټاکنو د پرتلی په شمیر د دفتر د مقام لپاره ودریږي او که نه، مخ پر زیاتیدونکي نا امني او نوي مذهبي او فرهنګی فشارونه کیدای شي د ښځو د ګډون شمیر راټیټ کړي.

۵۷.	د ټول ټاکنو د پروسي په وړاندې د حکومت ضد عناصرو له خوا مخ پر زیاتیدونکی نا امني او مستقیم خصومت د اندیښني وړ فاکتورونه دي. د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر کي، طالبانو په ډاګه د ټول ټاکنو د پروسي په وړاندې خپل مخالفت اعلان کړ. د نوم لیکنو د پړاو په جریان کي، هغوي د رای ورکوونکود نوم لیکنو د مرکزونو، او همدارنګه د رایي ورکوونکو د ثبت د موادو د له منځه وړلو مسوول دي. ویره موجوده ده چي کیدای شي نوماند/کاندیدان، د هغوي ملاتړي، د رای ورکولو مرکزونه او د ټول ټاکنو کار کوونکي د وسله والو مخالفینو

تر برید لاندې راشي. د رای ورکوونکو د ثبت د پروسې پر مهال، د رای ورکوونکو د ثبت یو شمیر مرکزونه د نا امنۍ له امله تړلی پاتې شوی دی.

۵۸. د نوماندو د ازمايښت او د ټول ټاکنو د اړوندو شکایتونو د بررسی په هکله باید له احتیاط څخه ډکه کتنه ترسره شي. د پخوانیو ټول ټاکنو څخه باید پند واخیستل شي، کله چې بررسي ګانې د ټولو افغانانو د هیلو د ترسره کولو په برخه کې پاتې راځي او د شکایتونو میکانزمونه هم ګڼ وي، په خاص ډول چې کله د ټول ټاکنو په ورځ د شکایتونو په هکله ټګي او د رایو په برخه کې ټګي برګي مطرح کیږي. د بررسي او شکایتونو د پرسو د بشپړتیا او خپلواکي څخه د ډاډ په خاطر او په ټول ټاکنو کې د ټولو افغانانو د برخې اخیستنې د آزاد فعالیت لپاره د یوه مساعد چاپیریال جوړول ضروري دي.

## V. د نهادونو وړتیا

### الف: د عدالت سمبالنه

۵۹. د ۲۰۰۸ کال په لومړیو کې د عدالت د ملي سکټور ستراتیژي او د عدالت ملي پروګرام پیل شو. دا دواړه پروګرامونه د عدلی سکتور د جوړولو او د عدلي سمبالني د ښه کولو پخاطر د یوه پراخه او همغږي روش غوښتنه کوي. د جنایي طرز العمل یو نوی قانون د تصویب په حال کې دی. د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو دفتر او د متحده آیالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د عدلي سکتور د ملاتړ پروګرام د تصویب یوی ډلی چې مهم حکومتي چارواکی او د عدلي سکتور فعالین په کې شامل وو د غونډې مشري وکړه. د نړیوالو بشري حقونو د معیارونو په منلو زیات تاکید شوی. دا مهمه ده چې د اوسنی حقوقي چوکاټ زیاتې تشې لکه د محکمې په وړاندې په چټکه توګه د حاضریدو د حق نشتوالی، څو د توقیف په مشروعیت لکه څنګه چې په نوي قانون کې راغلي له سره کتنه وشي.

۶۰. په دې توګه، دغه مثبت نوښتونه باید په موجوده حقیقتونو کې د پام وړ بدلون رامنځ ته کړي. پخپل سر نیونو او توقیف تېنګار کیږي، د عادلانه محاکمې معیارونه او زماني محدودي په دوامداره توګه ماتیږي. سربیره پر دې، عدلي سیستم د مالي سرچینو د کموالی سره مخاخ دي او کارکوونکي یې هم د ټیټې کچې د زده کړې څخه برخمن دي. د هیواد په کچه په ځانګړی ډول د سترو ښاري مرکزونو څخه د باندې یواځې څو مدافع وکیلان موجود دي. په همدې ډول، ویل کیږي، چې څارنوالان او وکیلان هم پوره استازیتوب نه شي کولای. د ولسوالی په کچه د یو شمیر نوښتونو سربیره، د پولیسو، څارنوالانو، محکمو او د توقیف ځایونو د چارواکو تر منځ د ناکافي همغږي له امله د عدالت کافي سمبالنه د مخنیوی سره مخامخ دی. د توقیف ځایونو په وضیعت کې د پام وړ ښه والی نه دی راغلي او د نړیوالو معیارونو د لاس ته راوړلو په برخه کې پاتې راغلي دي. په پاي کې، افغانان په

ټولیزه توګه د عدلي پرسو په حواله د خپلو حقونو څخه نا خبره دي او کله هم چې خبر شي بیا د مدافع وکیلانو د کموالی له امله په داسې یوه حالت کې نه دي چې خپل حقونه تر لاسه کړي.

۶۱. د عدلی سیستم په توان باندې ځو وکولای شي په عادلانه او خپلواکه توګه عدالت تامین کړي د باور نه درلودل، او په دې مانا چې افغانان د شخړو د حل لارو په خاطر ور باندې باور نه کوي. په نتیجه کې، غیر رسمي او عنعنوي عدالتي میکانیزمونه د ټولنو په کچو د زیات باور او اعتماد څخه برخمن دي. د دې میکانیزمونو د توان او په عادلانه توګه د عدالت د تامین په هکله په خاص ډول د ښځو، ماشومانو او تجرید شویو ډلو د حقونو د ساتلو په اړوند اندیښنې موجودې دي.

۶۲. نا امني لا هم د رسمي سکتور د سیستم پراختیا له ځنډ سره مخا مخ کړی. د شخړو په متاثره شویو سیمو کې، د رسمي عدالت موسیسات مخ پر زیاتیدونکي توګه د حکومت ضد عناصرو د مکررو بریدونو له امله د نه لاس رسی وړ او غیر فعاله شوی دی. په نتیجه کې، په ځینو ولسوالیو کې چیرې چې عدلي موسیسات نور فعاله نه دي، طالبان غښتلی شوی او ادعا کیږي چې هغوي د عدلي سیستمونو تر څنګ خپل فعالیت ته دوام ورکوي.

۶۳. د مرګ سزا اوس هم په هیواد کې د تطبیق او اجرا وړ ده. د ۲۰۰۸ کال د نومبر په میاشت کې، د ځانګړی کمیسیون د بیا کتنې په تقتیب او د ولسمشر له تصوبیه وروسته ټول ۱۶ تنه اعدام شول. زیاتره افغانان، د دولتی وتلو څیرو په شمول په کلکه د مرګ د سزا ملاتړ کوي فکر کوي چې ښایي دا د مخ پر زیاتیدونکی جنایت مخنیوی وکړي. د نړیوالو معیارونو په پرتله د قانون د پلی کوونکو او عدلي سیستمونو په برخه کې د پاتې راتلو په هکله زما د جدي اندیشنو په تعقیب، د ولسمشر څخه هیله کیږي چې د مرګ سزا نوره ودروي او د مرګ د سزا د قانوني مهلت د مخ پر ودې نړیوال توافق سره یو ځای شي.

**ب: د بشري حقونو کورني اداره**

۶۴. د ۲۰۰۸ کال د اپریل په میاشت کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د یو شمیر نمایندګیو لکه یوناما، OHCHR, UNHCR، یونیسف، یونفیم تر منځ د اصولو اعلامیه لاسلیک شوه. د دې اعلامیې اصلي موخه د ملګرو ملتونو د زیات همغږي ملاتړ له لارې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ظرفیت او عمل لا زیات پیاوړي کول دي. د زیات نږدې کار او بشپړوونکي نقش له لارې، تمه کیږي چې د بشري حقونو د ساتنې اغیزناکه سیستم چې اتکا یې پر ملي ظرفیت ولاړه ده، په هیواد کې جوړ شي.

۶۵. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، (الف)، خپل موقف ساتلی کوم چې د بشري حقونو د ودې او ساتنې لپاره د ملي موسیساتو د نړیوالي همغږۍ کوونکی کمېټې له خوا تصدیق شوی دی. هغه پخوانی اندیښنې چې د آی سی سی د فرعي کمېټې له خوا وړاندې شوې پر خپل ځای دي، په دې کې د دولت له خوا د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون لپاره نا کافي او متناقض مالي ملاتړ او همدارنګه د کمیسیارانو د پروسې د ټاکلو او نومولو په اړه د پلوراليسم او د کمیسیون د خپلواکي څخه ډاډ حاصلول، شامل دي.

## VIII. تخنیکي مرسته

۶۶. د افغانستان د ملي پراختیایي سراتیژي سره د هغه د ملاتړ د یوې برخې په توګه، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې ټیم د ۲۰۱۰- ۲۰۱۳ کلونو لپاره د ملګرو ملتونو د پراختیایي مرستې د چوکاټ لپاره چې خپلې تیاریانې یې د ۲۰۰۸ کال د جولای په میاشت کې، د افغانستان د ملی پراختیایي ستراتیژي څخه یوه میاشت وړاندې چې د ملګرو ملتونو د ګډو هیوادونو د ارزونې په توګه به ورڅخه کار واخیستل شي، پیل کړی دي. د یو ان ډاف بشپړې مسودې په هیواد کې د ملګرو ملتونو لپاره د لومړیتوب درې برخې تیاری کړې: د ښه حکومت کولو ترویج، سوله او ثبات، د ښځو او نارینه وو لپاره پایداره معیشت، کرنه، خوراکي مصونیت، د عایداتو رامنځ ته کول، اساسي ټولنیز خدمتونه، ښوونه او روزنه او روغتیا. د یو ان ډاف د پروسې په جریان کې، OHCHR د شریکانو سره د ټولنیزې اقتصادي پراختیا په ډګر کې د ایچ آر بی ای سره مرسته کوي.

۶۷. د ډله ییزو رسینو د ګډې پروژې د بریالي پروګرام د جوړولو په تعقیب، د OHCHR او د معیوبینو لپاره د عمل په هکله د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام تر منځ کوم چې په ۲۰۰۷ کال کې پای ته رسیدلي، زما دفتر د ډله ییزه رسینو د پروګرام جوړولو په موخه د ځایي معیوبو خلکو سازمان ته مالي مرستې برابرې کړې، دا لړۍ یې د تلویزیون د پروګرام جوړولو او په هیواد کې د لری پرتو سیمو لپاره د نشر په موخه نوره هم وغځوله. د دې سربیره، د ۲۰۰۸ کال په لومړیو کې د دریو ډی پي او ګانو له خوا هغه پروژې چې مالي سرچینې یې د ټولنو د مرستې د ګډ پلان لاندې د OHCHR او ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام له خوا ورکړل شوی وی، بشپړې شوې.

۶۸. د حکومت له خوا د رهبري کمېټه جوړه شوه چې د حکومت د اړوندو ټولو شریکانو او مدني ټولنې سره د بشري حقونو د شورا د نړیوالي دوره یې بیا کتنې څخه چې د ۲۰۰۹ کال د فبروري د میاشتې لپاره په نظر کې نیوله شوې د پراخو سلا مشورو په هکله ډاډ حاصل کړي.

## IX: نتیجه

۶۹.	د ۲۰۰۸ کال تر پایه، د افغاني ټولنې د بدلون هڅې د مخ پر زیاتیدونکو پوځي شخړو، نا قانوني، د صلاحیت څخه پراخې ناوړه کاروني د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی او د هغوي دامداره تجرید او د بیان د ازادې په وړاندې تعقیب او آزار دغه پروسه د جدي ګواښ سره مخامخ کړه. دغه بې ګټې تګ لارې د سیاسی آزادې د نه شتون له امله لا هم له بده بدترې شوې او نه شي کولای ژورو ستونزو ته ځواب ووایي. معافیت مسلط دي د ټولنې ناوړه جوړښتونو او د قدرت عنعنوي دلالانو زیات واک د بشري حقونو تطبیق زمینه په خاص ډول د زیانمنیدونکو ډلو د حقونو په اړوند لا محدوده کړې ده.

۷۰.	اوس دا په ډاګه شوې چې شخړې یوازې د پوځي لارو څخه نه شي حل کیدای. خو د یوې یو ځای شوې مسلکی مخکښې ستراتیژې لپاره چې وکولای شي د افغانستان د اوږد مهالی سولې او امنیت څخه ډاډ حاصل کړي او د پراختیا لپاره لاره هواره کړي باید لا هم د څرګندو پایلو انتظار وایستل شي. د بشري حقونو هغو ننګونو ته چې په دې راپور کې پیژندل شوي باید په چټکه، سیستماتیکه او پراخه کچه ځواب وویل شي. د اساسی خدمتونو رسول نه شي کیدای له دې امر څخه بیل شي چې په بشري حقونو تورن ځواکمنان باید مسوول وګڼل شي، د ښځو، نجونو او لیږکیو په وړاندې ژور تبعیض او تحدید نه شي کیدای د غریبي د ویرونکوکچو له کمولو څخه جلا کړو. د داخلي موسساتو د پیاوړتیا لپاره باید زیات کار ترسره شي، داسې ظرفیت باید رامنځ ته شي چې د هغوي د بشري حقونو ژمنې په موثره توګه اجرا کړي. په پای کې دا د افغانستان د حکومت دنده ده، خو په افغاني زمینه کې، نړیواله ټولنه ځانګړې دنده لري چې د افغانستان د ادارې سره د دې ژمنې په ترسره کولو کې مرسته وکړي او هم د مدنې ټولنې د فعالینو ملاتړ وکړي.

## X: وړاندیزونه

۷۱.	عالي کمیشنر وړاندیز کوي چې:

الف: په مرکزي او ولایتي کچو کې په ځانګړي ډول د هغو ډلو د وضیعت په هکله چې د دوامداره تبعیض سره مخامخ دي، د غریبي د کچې د ډیراو د پلی کولو او پراختیایي ستراتیژي ګانو په دننه کې د بشري حقونو د لرلید د یو ځای کولو په موخه باید زیاتې هڅې ترسره شي. د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي پلی کول باید د افغانستان د حکومت د داخلي او بشري حقونو د نړیوالو ژمنو سره مطابقت ولري. دغه ژمنې باید د افغانستان د ملي پراختیایي په عملیاتي او د نظارت او تحلیل په اړوندو فعالیتونو کې په ښکاره توګه ځای شي. له دې امله د اړینې بودجې تخصیص باید د هغو ډلو لومړیتوب ته وقف شي چې د تجرید او تعصب آمیزه فعالیتونو له

وجي زيانمن شوی. د نا جمع شويو اطلاعاتو د راغونډولو او تحليل مسايل ځو وکولای شي د توپير په وړاندې د زيانمنيدونکو ډلو لپاره د غريبي د کچې په راټيټولو کې د پرمختګ اندازه ولګوي بايد له هغو تدبيرونو سره يو ځای شي چې په پرمختګ کې د هغوي د برخې اخيستنې څخه د ډاډ په خاطر وي او د هغوي د ګټې د په نظر کې نيولو لپاره مطرح شوې دی. د افغانستان حکومت د نړيوالې ټولنې په ملاتړ بايد د عدليې د وزارت په د ننه کې د بشري حقونو وړانديز شوی واحد ژر تر ژره جوړ کړي چې وکولای شي دغه هڅې همغږې او د دې کار د اوږد مهالې پايدارۍ لپاره مناسبې سرچينې وقف کړي.

ب: حکومت پلوه او حکومت ضد عناصر بايد د ملکي کسانو، ښځو او ماشومانو په شمول د ساتنې مسلې ته زيات درناوي وکړي. څيړنې، که چيرې ضروري وشميرل شي عدلي تعقيب بايد په چټکه او خپلواکه توګه ترسره شي. داخلي او نړيوال پوځې ځواکونه بايد د حساب ورکوونې د يوه روڼ او ښنلونکي سيستم د جوړولو لپاره خپلې هڅې پياوړې کړي. په ياغيانو باندی د تاثير اچولو په موخه هم بايد هڅې ترسره شي ځو په ملکي موخو باندې بريدونه ودروي او بشري ټولنې ته فرصت ورکړي ځو حياتي بشري فضا بيا تر لاسه او وساتي.

ج: د افغانستان حکومت بايد په فعاله توګه په افغانستان کې د ښځو لپاره د عمل د ملي پلان سره يو ځای د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژي د جنسيت د برابرې د اړوندې ستراتيژي په اړه ډاډ حاصل کړي ځو دغه ستراتيژي ګانې د حکومت په کار کې داخلي شي. د حقوقي اصلاحاتو فعلي نوښتونه بايد په خصوصي او عامه سکتورونو کې د تاوتريخوالی د ټولو بڼو په وړاندې ښځو او نجونو ته د زياتې ساتنې د برابرولو په موخه د نړيوالو معيارونو سره يو ځای شي او په چټکه توګه د پاليسي ګانو په متخصو پروګرامونو واړول شي. د ټولو ټاکنو د راتلونکي دوري پر مهال، د ښځو د بشپړ او خوندي ګډون لپاره ځانګړي ګامونه واخيستل شي.

د: د افغانستان حکومت او د هغوي نړيوال شريکان بايد د مصونيت په ځواب ويلو کې د يوه لومړيتوب په حيث خپلې ژمنې څرګندې کړي. د قانون د حاکميت ملاتړ او عدالت ته لاس رسي د هرې ديموکراتيکې ټولنې لپاره يو کليدي شرط دی. دا کار به همدارنګه په دولتي ادارو کې د افغانانو له خوا د زيات باور د رامنځ ته کولو په برخه کې مرسته وکړي. د قانون د پلي کوونکو ادارو او قضايي چاروکو خپلواکې او بې طرفي بايد تضمين شي، او د عدالت د لاس رسي لپاره بايد د هغوي په واک کې لازمې سرچينې ورکړلې شي. حکومت او نړيواله ټولنه بايد په خاص ډول د نوښتونو له لارې د تيرو وختونو په حواله د حقيقت موندلو، د ډله ييزو قبرونو د عدلي څيړنو په شمول او د پخلاينې د ودې لپاره د مدني ټولنې ملاتړ وکړي. هغوي بايد د انتقالي عدالت پروسې ته بيا ځان ژمن کړي، د حکومتي اداری د پياوړکولو او مرستې په هکله په خاص ډول د موسيساتي اطلاعاتو او د ټاکلو د عادلانه او رڼو طرز العملونو له لارې ځانګړي پاملرنه وکړي.

هـ: حکومت او نړیواله ټولنه باید د مدني ټولنې، په عامه موقیفونو کې د ښځو او ډله ییزو رسنیو د استازیو څخه د یوې دیموکراتیکي اداري د جوړولو د حیاتي برخو په حیث ساتنه وکړي. د ټول ټاکنو د راتلونکي پروسې د خپلواکي او بشپړتیا څخه ډاډ او همدارنګه د نوماندانو بررسي د زیات اهمیت درلودونکی دی. دغه کار به داسې مساعد چاپیریال رامنځ ته کړي چې افغانان وکولای شي د سیاسي او نورو اطلاعاتو په ورکولو او تر لاسه کولو کې خپل حق په آزاده توګه وکاروي او په ټول ټاکنو کې ګډون وکړي.

و: د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون باید د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د نظارت کولو، د بشري حقونو د ساتنې او ودې په برخه کې خپل ځانګړی رول ته دوام ورکړي. لکه څنګه چې د بشري حقونو ملي اداری ته د نړیوالې هماهنګي د کمېټې له خوا اشاره شوې، د افغانستان حکومت باید په خپله کلنی بودجه کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون لپاره تخصیص جلا کړي او باید ډاډ حاصل شي چې د هغه د خپلواکي د ساتلو په موخه د قانون جوړولو پروسه پلې شي.

ز: د افغانستان له حکومت څخه په کلکه غوښتنه کیږي چې د مرګ د سزا په هکله په ځانګړي ډول د جنايي عدلی سیستم د نیمګړتیاوو د پیژندلو په برخه کې د خپل قانوني مهلت په ځنډولو له سره کتنه وکړي او د نړۍ په کچه د ټولنې د مخ پر زیاتیدونکو هیوادونو سره د مرګ د سزا د قانوني مهلت د ځنډولو په برخه کې یو ځای شي.

-------